# له پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره مې لمونځ وکړ، هغه به ښي لور ته «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ»، او کيڼ لور ته : «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ» داسې سلام ګرځاوه

له وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: له پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره مې لمونځ وکړ، هغه به ښي لور ته «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ»، او کيڼ لور ته : «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ» داسې سلام ګرځاوه.

[حسن] [ابوداود روايت کړی دی]

کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم غوښتل له لمانځه څخه ووځي نو ښي او کيڼ لور ته به يې داسې سلام ګرځاوه چې: لومړی به يې د (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) په ويلو سره ښي لور ته او د (السلام عليكم ورحمة الله) په ويلو سره کيڼ لور ته سلام ګرځاوه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10945

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee